# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ لسمه | د ۲۰۱۹ د جولای لومړۍ | دریم کال|۳۹٦یمه ګڼه


## هېواد


۴ مخ

### تاجکستان

د دغه هېواد اووه سلنه خاوره د کرنې وړ ده، کرنه د تاجکستان د اقتصاد غټ سکټور دی او مالوچ يې خورا مهم کرنيز حاصل ګڼل کېږي.



### چاروا<u>کي</u>: په دوو اونيو کې تازه ميوه بهرنيو هېوادونو ته صادرېږي



د صنايعو او صادراتو د پراختيا اداره وايي، ټاکل شوې چې په راتلونکو دوو اونيو کې د هوايي دهلېزونو له لارې تازه ميوه بهرنيو هېوادونو ته صادره شي.
د دغې ادارې رييس مېر زمان پوپل پرون ازادي راډيو ته ويلي، چې دا ميوه به اروپايي هېوادونو او متحده عربي اماراتو ته د هوايي دهلېزونو له لارې صادرېږي.
نوموړي زياته کړې: «ټاکل شوې چې تر راتلونکې يوې يا دوو اونيو پورې موږ هندوانې او نوره تازه ميوه هم بهر ته صادره کړو. نوره ميوه د هوايي دهلېزونو له لارې اروپايي هېوادونو او عربي اماراتو ته چې ګيلاس او زردالو دي، صادرروو. د هندوانې پېرودونکو ته هم په تمه يو او له خيره زر ټنه به ولېږو».
ښاغلي پوپل دا هم ويلي چې په نږدې راتلونکې کې به زر ټنه د هرات انګور هم هندوستان هېواد صادر شي، چې په دې برخه کې تړونونه هم شوي دي.

# د ټاکنو لپاره تقويتي نومليکنه؛

## دغه پروسه پای ته ورسېده، خو شنونکي يې بې اغېزې او ناکامه بولي



د خبرو په اووم پړاو کې د جوړجاړي شونتيا څومره ده؟

۲ مخ

د شانګهای د همکارۍ سازمان نولسمه غونډه او پر افغانستان يې اغېزې

۲ مخ

د رياليزم تيوري

۳ مخ

## <u>طالبان</u>: له امريکايي لوري سره په روانو خبرو کې پرمختګونه شوي دي


د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امريکايانو ترمنځ د غونډې ځينو برخوالو بي بي سي ته تاييد کړې چې په روانو خبرو کې پرمختګ شوی دی.
د طالبانو سرچينو بي بي سي ته ويلي چې خبرې سمې او ښې روانې دي.
سرچينې ويلي، د دواړو لورو ترمنځ خبرې پر څلورو ټکو راڅرخي چې له افغانستانه د امريکايي او ناټو ځواکونو د وتلو لپاره د مهالوېش ټاکل، د نورو هېوادونو پر وړاندې د افغانستان د خاورې نه کارېدل، اوربند او څلورم بين الافغاني خبرو اترو ته به لاره هوارېږي.
سرچينو دغه راز ويلي، که په روانو خبرو کې کومې هوکړې ته رسېږي، نو کېدای شي چې بين‌الافغاني خبرې هم د جولای مياشتې په لومړيو کې پيل شي.
دا معلومه نه ده چې د خبرو اوسنی پړاو به تر کومه دوام وکړي، خو يادې سرچينې ويلي، دا ځل د طالبانو او امريکايي استازو ترمنځ خبرې جدي دي او ښايي درې ورځې دوام وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د دغه پړاو خبرو تر پيلېدو دمخه د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد ويلي وو، چې دواړه خواوې په خبرو کې جدي پرمختګ غواړي. طالبانو هم د سولې اوسنۍ خبرې مهمې بللې دي.
د تېرو پړاوونو خبرې تر ډېره له افغانستانه د امريکايي ځواکونو پر وتلو او د ترهګرۍ په موخه د نورو پر ضد د افغان خاورې د نه کارونې پر مسايلو ورټولې وې.

## افغانستان له ټاکنو وروسته د ناورين زغم نه لري




۵ مخ

## فيض الله کاکر به حيث رئيس دفتر رياست جمهوری گماشته شده است



رئيس جمهور غنی طی فرمانی، داکتر فيض الله کاکر را به حيث رئيس عمومی دفتر مقام عالی رياست جمهوری مقرر کرده است.
در فرمان رئيس جمهور آمده است که تقرر فيض‌الله کاکر به حيث رئيس عمومی دفتر مقام عالی رياست جمهوری در بست خارج رتبه، منظور است.
فيض الله کاکر، درسال ۱۳۲۹ در ولايت فارياب به دنيا آمده است و به اساس زندگينامۀ نشر شدۀ داکتر فيض الله کاکر؛ او سند ليسانس را در بخش بيولوژی در امريکا به دست آورده و دوکتورا را نيز در بخش اپيديمولوژی در پوهنتون واشنگتن گرفته است.
او که مؤسس موسسۀ ريکا (RACA ) نيز می باشد، در کنار برخی وظايف ديگر، به حيث معين وزارت صحت عامه افغانستان، سفير افغانستان در قطر، مشاور رئيس جمهور در بخش صحت، رئيس طب وقايوی وزارت صحت عامه افغانستان، رئيس پوهنتون اسلامی و معاون پروفيسور در ديپارتمنت اپيديمولوژی پوهنتون واشنگتن، کار کرده است.
پيش از اين، عبدالسلام رحيمی به حيث رئيس عمومی دفتر مقام عالی رياست جمهوری کار می کرد که اکنون وی، به حيث وزير دولت در امور صلح تقرر يافته است.
قابل يادآوری است که در چند روز اخير مقرری‌های زيادی در بخش‌های مختلف حکومت وحدت ملی صورت گرفته است که با عکس العمل‌های سياسيون نيز مواجه شده‌است.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### د خبرو په اووم پړاو کې د جوړجاړي شونتیا څومره ده؟

په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ دویمه ورځ هم خبرې شوې دي او ځو نورې ورځې به هم دوام کوي. دواړه لوري د پرمختګونو خبره کوي، خو رسمي معلومات نه ورکوي. ویل کېږي چې د ترهګرۍ پر تعریف د دواړو اړخونو ترمنځ هوکړه شوې ده، خو دا چې هوکړه لیک "د طالبانو اسلامي امارت" او که "د طالبانو د اسلامي تحریک" په نوم لاسلیک شي، لا هم په دې اړه اختلاف شته. دغه راز ویل کېږي چې د بین‌الافغاني خبرو او اوربند پر څرنګوالي هم لا اختلافونه نه دي حل شوي او خبرې پرې روانې دي.

دواړه لوري د مثبت تصویر ورکولو هڅه کوي او غواړي خلک هیله من وساتي. تر دې وړاندې هم همدا هڅه وه. د خبرو شپږم پړاو له سختو ستونزو او په شاتګونو سره مل و، خو تر پایه دواړو لورو د پرمختګونو خبره کوله. اوس هم د پرمختګونو خبرې کېږي، خو له شک پرته دا خبرې سختې، پېچلې او له اختلافاتو ډکې دي. دواړه لوري هڅه کوي چې پر یو بل خپلې غوښتنې ومني، له همدې امله دا خبرې سختې دي. دا خبرې به اوږدې هم وي، ځکه چې دواړو لورو د مهمو پرمختګونو د وروستي کېدو خبر ورکړی دی. طالبانو خو آن ویلي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش او د چا پر ضد د افغان خاورې نه استعمال به وروستي کېږي او هوکړه به یې لاسلیک کېږي. امریکا بیا بیا ویلي چې هوکړه به پر ټولو مسایلو وي، که پر لومړیو دوو مسایلو هوکړه وي، نو پر اوربند او بین‌الافغاني خبرو به هم بحث کېږي او په دې اړه به وروستۍ پرېکړه کېږي. په واقعیت کې دا اصلي او اساسي غوټې دي چې حل یې د سولې د روانو خبرو د بریا په مانا دی. له همدې امله به دا پېچلې خبرې وي او ښایي ډېر وخت واخلي.

که د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالوېش او د چا پر ضد د افغان خاورې د نه استعمال ربړې حل شي او په دې اړه هوکړه وشي، دوو نورو مسایلو ته لارې شته. که بهرني ځواکونه د وتلو اعلان وکړي، نو طالبان به اوربند ته زړه ښه کړي او وبه مني چې اوربند وشي. البته دا اوربند به مشروط او د بهرنیو ځواکونو د وتلو له عملي پیل سره تړلی وي، چې په هر حال ستونزه ورسره هوارېږي. د بین‌الافغاني خبرو ستونزه یو څه جدي ده، ځکه چې لا هم طالبان نه حاضرېږي چې له حکومت سره خبرو ته کښېني. طالبان له سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره خبرې کوي او وایي چې له دوی سره به په راتلونکي نظام او دولت خبرې کوي او تر اوسه پورې یې ورسره څو غونډې هم کړې دي. د حکومت ستونزه پر ځای ده. اوس که له حکومت سره پر خبرو ډېر ټینګار کېږي او دا د حل لپاره اړینه وي، نو کېدای شي حکومت داسې بدل شي چې طالبان ورسره خبرو ته زړه ښه کړي. ښایي یو ناپیلی لنډمهاله حکومت جوړ شي او طالبان ورسره خبرو ته حاضر شي. په دې ډول به هم له حکومت سره د خبرو ستونزه حل شوې وي او هم به دلته حکومت او نظام له منځه نه وي تللی. که دواړه اړخونه په رښتیا د حل جدي اراده ولري، نو حل ستونزمن نه ښکاري او کېدای شي همدا اووم پړاو د بشپړې هوکړې پړاو شي.

# د شانګهای د همکارۍ سازمان نولسمه غونډه او پر افغانستان یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د شانګهای د همکارۍ سازمان نولسمه غونډه د قرغزستان هېواد په کوربتوب د یاد هېواد په مرکز بېشکیک کې د جون میاشتې په ۱۳مه او ۱۴مه تر سره شوه، چې د افغانستان ولسمشر د یوه پلاوي په مشرۍ په دې غونډه کې ګډون کړی و. د دغه سازمان مخینه د افغانستان له حالاتو سره مستقیمه اړیکه لري او په وروستیو لسو کلونو کې هم د افغانستان په لور د دغه سازمان پاملرنه، اندېښنې او لېوالتیا زیاته شوې ده. په سیمه کې د دغه سازمان ارزښت ته په کتو سره افغانستان هم په دې وروستیو کې د دغه سازمان د بشپړ غړیتوب تر لاسه کولو غوښتنې وکړې. د افغانستان جمهور رییس محمد اشرف غني د دغه سازمان د وروستۍ غونډې په څنډو کې د چین، هند، قزاقستان، ازبکستان او تاجکستان له مشرانو سره هم ملاقاتونه درلودل.

دا چې د شانګهای د همکارۍ سازمان او افغانستان پر یو بل د اغېزو مخینه څه ده؟ د دې سازمان سیمه ییز او نړیوال رول څه دی؟ د افغان سولې په کشاله کې څه رول لرلی شي او په پای کې د ۱۹مې غونډې ارزونه هغه څه دي چې د دې اونۍ په تحلیل کې پرې شننه شوې ده.

**د شانګهای پنځه سازمان او د شانګهای د همکارۍ سازمان مخینه**

چین د شوروي اتحاد له ټوټه کېدو وروسته هم د ځینو هېوادونو لکه روسیې، قزاقستان، تاجکستان او قرغزستان سره د شاوخوا ۷۰۰۰ کیلومتره ګډ سرحد په اړه ستونزې درلودې او دې ستونزو کولی شوی د چین اړیکې په راتلونکي کې له ګواښ سره مخ کړي. دا ځکه چې په یادو سرحدي ستونزو کې د چین او پخواني شوروي اتحاد لښکرې د جګړې په ډګر کې له یو بل سره مخامخ شوې هم وې.

د چین او څلورو نورو هېوادونو (روسیې، قزاقستان، تاجکستان او قرغزستان) ترمنځ په ۱۹۹٦ ز کال کې د نویو او ښو اړیکو رغولو او په ځانګړې توګه د سرحدي کشالو حل کولو په موخه یوه ګډه غونډه جوړه شوه او د شانګهای پنځه سازمان جوړېدو ته یې لاره هواره کړه او یاد سازمان په ډېر لږ وخت کې وکولی شوی چې د اوږد ګډ سرحد اړوند کشالو ته د پای ټکی پیدا کړي.

د سرحدي کشالې له حل کېدو وروسته د یاد سازمان پنځو غړو هېوادونو ترمنځ دوستانه فضا رامنځ ته شوه، د یاد سازمان غړیو هېوادونو د خپلو ملي ګټو خوندي کېدو په موخه، د سیمې او په ځانګړې توګه د افغانستان دننه د افراطي ډلو شتون ته متوجه او د هغوی پر وړاندې یې ګډې مبارزې او همکارۍ ته مخه کړه. د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو په شمول، د ځینو نورو ادارو ترمنځ وخت په وخت غونډو، د سیمې د امنیت او ثبات ترڅنګ، د تروریزم، مخدره موادو او وسلو د قاچاق ستونزو په اړه په ګډ کار سلا مشورې او په منځنۍ اسیا کې د اټومي وسلو د نشتون او اقتصادي پرمختګونه د شانګهای په سازمان کاري لومړیتوبونه شول.

د ۲۰۰۱ ز کال د جولای په ۱۵مه ازبکستان د شانګهای پنځه سازمان غړیتوب تر لاسه کړ او یاد سازمان په رسمي توګه د شانګهای د همکارۍ سازمان په نوم ونومول شو.

اوسمهال اته هېوادونه (چین، قزاقستان، قرغزستان، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، هند او پاکستان) د یاد سازمان دایمي غړي، افغانستان، بیلاروس، ایران او د منګولیا هېوادونه یې د څارونکو او ازربایجان، ارمانیا، کمبوډیا، نیپال، ترکیه او سریلانکا هېوادونه یې د خبرو شریکانو په حیث پېژندل کېږي.

**دشانګهای سازمان نړیوال او سیمه ییز رول**

په نړیواله کچه د شانګهای د همکارۍ سازمان ته په درنه سترګه کتل کېږي او په اوس کې یې له ملګرو ملتونو وروسته د نړۍ لوی سازمان یادولی شو، چې له شمالي قطب نه تر هند سمندرګي او د چین د لینیانګوانګ سیمې تر کالینین ګراد روسیې فدراسیون پورې سیمې، چې د نړۍ ۴۴ سلنه نفوس جوړوي، پکې رانغښتې دي. دا سازمان وخت په وخت د پراختیا پر لور ګامونه اخلي او د جنوبي اسیا د دوو پیاوړو هېوادونو (پاکستان او هند) په شمول، د نړۍ څلورو اټومي وسلو لرونکو هېوادونو غړیتوب له ځانه سره لري او ترکیه چې اوس د دې سازمان د خبرو شریک بللی شو، له دې سازمان سره د یو ځای کېدو لېوالتیا یې چین له خوښۍ سره مخ کړې دی.

د شانګهای سازمان غړو هېوادونو د راټس (RATS) یا Regional Anti-Terrorist Structure یا (سیمه ییز تروریزم ضد چوکاټ) په مټ وکولی شوی، چې له (۲۰۱۱ ز) کال نه تر (۲۰۱۵ ز) کال پورې د ۲۰ غټو تروریستي حملو مخنیوی وکړي، د تروریستانو ۴۴۰ د روزنې مرکزونه او شاوخوا ۱۷۰۰ نړیوال تروریستان له منځه یوسي او د ۳۲۵۰ په شاوخوا کې د چاودېدونکو موادو آلې کشف کړي چې کولی شي د سیمې په ثباتۍ او د غړیو هېوادونو ترمنځ په بې باورۍ رامنځ ته کولو کې پراخه ونډه ولري او په دې اړه د غړیو هېوادونو ترمنځ ګډې همکارۍ لا دوام لري.

د دې ترڅنګ د (۲۰۱۵ ز) کال غونډه کې دا پرېکړې هم وشوې، چې غړي هېوادونه اړ دي چې د تروریستي مرکزونو، د تروریستي فعالیتونو او د تروریستانو د مالي ملاتړ سرچینې او معلومات غړي هېوادونه له یو بل سره شریک کړي او په اړه یې ګډ تصامیم ونیسي، څو سیمه له بې ثباتۍ څخه وژغوري.

د شانګهای سازمان د اساسنامې له مخې، د غړیو هېوادونو ترمنځ په لاندې برخو کې همکاري کېږي، څو په سیمه کې د اعتماد جوړونې په برخه کې مثبت ګامونه پورته کړي او له بلې خوا سیمه له شخړو او کړکېچونو څخه وژغوري:

مخدره مواد: د شانګهای د همکارۍ سازمان نه یوازې په سیمه ییزه توګه، بلکې په نړیواله توګه د تروریزم، غیر قانوني مخدره موادو کښت او قاچاق، غیر قانوني وسلو او تروریستي ډلو په خلاف له نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ غونډې تر سره کوي، چې د هغې له جملې څخه یې د ۲۰۱٦ ز کال غونډه چې له ملګرو ملتونو سره یو ځای یې په په نیویارک ښار کې جوړه کړې وه او موخه یې د نړیوالو ګواښونو پر وړاندې ګډه مبارزه وه او همدارنګه د مخدره موادو پر ضد یې په ویانا کې د ملګرو ملتونو د مخدره موادو او جرایمو ضد ادارې سره په همغږۍ ګډه غونډه تر سره کړې وه، یادولی شو.

اقتصادي همکارۍ: د شانګهای د همکارۍ سازمان نه یوازې په سیمه ییزه توګه، بلکې په نړیواله توګه غواړي چې ازاد تجارت، اقتصادي ثبات او د نړیوال اقتصاد بیارغونې او ګډې همکارۍ ته دوام ورکړي او د نړیوال تجارت پر وړاندې بندیزونه او خنډونه له منځه یوسي.

کلتوري همکارۍ: یوازینی علت چې د دې سازمان غړو هېوادونو ترمنځ یې باور رامنځ ته کړی او ګډې همکارۍ ته یې لاره هواره کړې، کلتوري، علمي او ساینسي همکارۍ یادولی شو.د منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د بډایه کلتوري میراث شتون او کلتوري همکارۍ کولی شي، د غړو هېوادونو ترمنځ کلتوري نمایشونو او سیالیو ته لاره هواره کړي او دا کار د خلکو ترمنځ د فاصلو کمولو او نږدې کولو کې پراخه ونډه لرلی شي.

**د شانګهای سازمان نولسمه غونډه**

د روان کال د جون میاشتې په ۱۳مه او ۱۴مه د نوموړي سازمان نولسمه غونډه تر سره شوه، چې د سیمه ییز امنیت ترڅنګ، د تروریزم او مخدره موادو د قاچاق په وړاندې مبارزه، اقتصادي پرمختګ، صنعت، د افغانستان پر روان وضعیت او د ایران اټومي تړون پر موقف چې یاد هېواد یې تر اوسه له غړیتوبه په شا کړی، هغه موضوعګانې وې چې د دې غونډې په اجنډا کې راڅرخېدلې.

چین په سیمه کې د پراخې پانګې اچونې او د اسیا مارکېټ ته د خپلو توکو رسولو ارادې ته په کتو، دې ته ډېر لېواله ښکاري چې له کابل څخه، لکه څنګه چې یې په ۲۰۱۲ ز کال کې د څارونکي هېواد په حیث ملاتړ وکړ، غړیتوب ته هم راولي، خو له بلې خوا دا غړیتوب په اوس کې د افغانستان لپاره هم خورا مهم دی، ځکه کابل کولی شي د یاد سازمان په همکارۍ د مخدره موادو کښت او قاچاق مخنیوی، په افغانستان کې د هغو یوشمېر جنګي ډلو شتون چې نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې نورو هېوادونو امنیت له ګواښ سره مخ کولی شي او اقتصادي پرمختیا په برخه کې ملاتړ تر لاسه کړي.

د شانګهای د همکارۍ سازمان نولسمې غونډې ته د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني په خپله وینا کې مخدره مواد، تروریزم او جګړه د یاد سازمان غړیو او څارونکو هېوادونو امنیت پر وړاندې ستر ګواښونه یاد کړل او د خپل هېواد د امنیتي ځواکونو سرښندنو یادونه یې وکړه، چې په فراه ولایت کې یې ۵۳ د مخدره توکو لابراتوارونه له منځه وړي او قاچاق وړونکو ته یې قابو یو میلیارد امریکایي ډالر زیان اړولی او څرګنده یې کړه چې هېواد یې د مخدره توکو پر ضد قوي او غښتلې اراده لري.

**د افغان سولې په کشاله کې د دغه سازمان رول**

د افغانستان ولسمشر د شانګهای سازمان له مشرانو څخه د افغانانو په رهبرۍ او مالکیت د سولې پروسې په برخه کې د ملاتړ غوښتنه وکړه او د سولې نشتون یې د شانګهای سازمان هېوادونو ته جدي ګواښ وباله او په دې اړه یې د سیمه ییزې اجماع ترڅنګ نړیوالې اجماع شتون هم اړین وباله. که د افغانستان دننه د سولې پروسې په برخه کې په رښتیني مانا کار وشي، کولی شي د شانګهای سازمان اړوند هېوادونه په ډېرې اسانۍ سره د سولې په برخه کې سیمه ییزې اجماع ته را وړاندې کړي او په دې برخه کې د چین او هند رول چې نسبتاً له افغانستان سره ښې اړیکې لري، کولی شي د سولې په برخه کې مرستندویه واقع شي. د دې سازمان نورو غړیو هېوادونو له جملې څخه د پاکستان لومړي وزیر عمران خان هم د افغانانو په مالکیت د سولې له پروسې نه خپل ملاتړ اعلان کړ او د افغانستان سولې موضوع یې د سیمې اړوند موضوع وګڼله.

**د پای خبره**

د شانګهای سازمان چې د سیمې او آن د نړۍ په سطحه ځانګړې ارزښت لري او افغانستان د جنوبي او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ، چې ځینې یې د دې سازمان غړیتوب هم لري، د وصل سیمه باله شي، نو څومره چې زر کېدلی شي، د دې سازمان غړیتوب ته باید لاره ومومي او دا کار کولی شي، د دې هېواد د سولې موضوع ترڅنګ، سرحدي ستونزو او اقتصادي پرمختګونو کې مرستندویه واقع شي.

افغانستان له غړیتوب وروسته کولی شي، خپلو سرحدي کشالو ته په اسانۍ حللارې ومومي او دا ځکه چې د شانګهای د همکارۍ سازمان د ۲۰۱۵ ز کال په غونډه کې یو ځل بیا تعهد وکړ، چې د غړو هېوادونو ترمنځ به سرحدي کشالو ته حللارې مومي او غړي هېوادونه به د نړیوالو تروریستانو د مخنیوي په خاطر خپل سرحدي ځواک لاپسې پیاوړی کوي. نو په همدې اساس له غړیتوب وروسته یاد هېواد کولی شي، په ګاونډیو هېوادونو او په ځانګړې توګه پر پاکستان او ایران د یاد سازمان په مټ او همکارۍ فشار راوړي، څو له افغانانو سره د سولې په راتګ کې صادقانه رول ولوبوي.

## <u>ماليې وزارت:</u> د طبي وسایلو د نشتون له کبله هرکال ۵۰۰ میلیونه ډالره په بهر کې په درملنه مصرفېږي

د مالیې وزارت سرپرست همایون قیومي ویلي، د طبي تشخیصي او په ځانګړي ډول د سرطاني ناروغیو د وسایلو د کمبود له امله، هرکال افغانان په بهر کې تر ۵۰۰ میلیونو ډالرو پورې په خپله درملنه مصرفوي.

قیومي پرون په کابل کې د سرطان د ناروغۍ ملي سمپوزیم ته په وینا کې ویلي، چې د دغو پیسو تر دریو سوو میلیونو ډالرو پورې یې د سرطاني ناروغیو پر درملنه او دوه سوه میلیونه ډالر د نورو ناروغیو پر علاج مصرفېږي. هغه ویلي، مالیې وزارت هڅه کړې چې د روغتیایي خدمتونو د پیاوړي کېدو او پراخېدو لپاره د پوهنې او روغتیا سکټورونو لپاره په ملي بودجه کې زیاته ونډه ښېله کړي.




دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د روانې جګړې له امله د ملي بودجې زیاته برخه په امنیتي سکټور کې پر مصرف رسېږي.

بلخوا د سرطان د ناروغۍ ملي سمپوزیم ته ولسمشر غني په خپله وینا کې وویل چې د افغانستان روغتونونه به له بهرنیو هېوادونو سره ونښلول شي او د عامې روغتیا وزارت باید په دې برخه کې جدي ګامونه واخلي. غني زیاته کړې: «په کار دي چې د روغتیایي توریزم مخه ونیسو. دا دوې برخې لري یو دا چې خلک له مجبورۍ ځي، خو بله برخه یې دا ده چې ممکن دلته هېڅ ډول طبي کړنلاره موجوده نه اوسي».

هغه دغه راز زیاته کړې چې مالیې وزارت باید د سرطان د ناروغۍ د درملنې لپاره لازم ماشینونه او وسایل په افغانستان کې د خلکو د درملنې لپاره چمتو کړي.

دغه څرګندونې داسې مهال مطرح کېږي، چې د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې هر کال شاوخوا شل زره کسان د سرطان د ناروغۍ له امله مري، چې د ښځو د سینې سرطان هم پکې شامل دی.



# د ریالېزم تیوري

لیکنه: سید خالد سادات

ریالېستان په نړیوال نظام کې پر شته او موجود سیاست بحث کوي. د دولتونو تر منځ په سیاسي تعاملاتو کې د (باید) کلمه نه مني. ریالېستان دلیل راوړي چې هېوادونه تل د خپلو ګټو پر بنا خپل سیاست څرخوي، نو ځکه د باید کلمه نه شي کولای چې د هېوادونو تعاملات (State Practices) په اجباري ډول بدل کړي. د ریالېزم ایډیالوژۍ له مخې، سیاسي لوبغاړي پر واقعیتونو استدلال کوي او د حل موندلو لپاره واقعي حل مخته وړي.

زموږ ولسمشر په تیوریکي لحاظ ریالېست برېښي؛ خو سیاسي تعاملات یې ایډلېزم ته پاتې کېږي. که موږ له پاکستان سره خپلې ستونزې حلوو، نو ولې د ۲۵ میلیونو ډالرو خسارې چې له هندوستان سره د سیاسي رقابت له امله پاکستان زموږ هېواد ته اړولې؛ پوښتنه نه شو کولای.

واقعیت دا دی چې د ډیورنډ پر کرښه باندې اغزن تار تېرېږي، په سترګو یې ګورو او د کیلومټرونو حساب یې هم معلوم دی، نو بیا ولې پر دې واقعیت سترګې پټوو او له پاکستان سره د ارمانګرایۍ بحثونه چې د سیمه ییز اتصال او منطقوي ټرانزیټ دي، ځانونه تېر باسو. د تجارت او ټرانزیټ په برخه کې اته کاله دمخه د پاکستان او افغانستان تر منځ د APTTA په نوم تړون لاسلیک شوی، چې له مخې به یې پاکستان مرکزي اسیا ته لار مومي او په مقابل کې به افغانستان د هند خاورې ته خپل مالونه وړي او راوړي. اما له دغه تړون څخه پاکستان سرغړونه کړې چې باید افغان ولسمشر پاکستاني مقاماتو ته د پاکستان تقصیر د سیمه ییز اتصال پر وړاندې اساسي خنډ تعریف کړي. منو چې ولسمشر مو عالم او پوه انسان دی.

ممکن په سیمه ییزه سیالۍ هم وپوهېږي، خو که د پاکستاني اقتصادانانو د لاربښوونې پر ځای په هېواد کې د یو مجهز نړیوال روغتون تهداب ابښی وای، نن به مو سپین ږیری مریض بابا د پنجاب ویزې په مقابل کې خپل روح جلال اباد کې د پاکستان کونسلګرۍ ته نه بابښه. قاعده دا ده چې د پاکستان تش په وعدو او مکارانه سیاست باید نور ونه غولېږو. د افغانستان کشاله کې باید پاکستان د افغانستان دولت او خلکو ته واقعي مثبت بدلون وښیي، څو محسوس شي او بیا باید افغان دولت انعطاف ښکاره کړي.

افغان ولسمشر د سولې په هڅو کې اساسي خنډ پاکستان تعریفوي، اما اسلام اباد کې بیا ولسمشر په افغان سوله کې د پاکستان له هڅو مننه کوي. ولسمشر په پیل کې له واقعیتونو پرده پورته کوي، اما د خبرو په پای کې واقعیتونه بېرته کتمانوي او د پاکستان هڅې ستایي. په تېرو څلورو کلونو کې افغان ولسمشر د پاکستان پر وړاندې خورا ښه لاړ.

د افغانستان خلکو او نړیوالو ته یې د پاکستان اصلي څېره لا بربنډه کړه. حد اقل زموږ ځوان نسل ته یې له پاکستان سره د سیالۍ چل زده کړ، اما په اوسني سفر سره یې موږ ته شکونه راولاړ کړل چې موږ د دښمن کور ته بغیر له کوم بدلونه ولې ورشو. پاکستان اوس هم طالبان حمایه کوي، هره ورځ زمونږ تر یو نیم سل زیات هیوادوال د پاکستان نیابتي سیاست قرباني کېږي، له هند سره مو د ځمکني او هوایي تجارت پر وړاندې اساسي خنډ پاکستان دی، نو بیا څه شی مونږ ته پاکستان کړي چې کور ته یې وردرومو؟

دا او دې ته ورته پوښتنې زموږ د خارجي سیاست ستر ضعف را په ګوته کوي.

# د ټاکنو لپاره تقویتي نوملیکنه؛

## دغه پروسه پای ته ورسېده، خو شنونکي یې بې اغېزې او ناکامه بولي



د راتلونکو ټاکنو لپاره د تقویتي نوملیکنې موده پای ته رسېدلې، خو خلک له دغه پروسې شکایت لري. د ټولنیزو رسنیو کاروونکي او همدا راز نوماندانو ته نږدې کسان پر دغه پروسه نیوکه کوي او په خبره یې د ټاکنو کمېسیون دغه لړۍ محسوسه او ډېره اغېزمنه نه وه. د سیاسي چارو شنونکي او د ټاکنیزو ټیمونو غړي پر دې باور دي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دغه مهمې پروسې په اړه اړین عامه پوهاوی نه دی ورکړی؛ نو خلک نه دي بریالي شوي چې د راتلونکو ټاکنو لپاره د نوملیکنې په برخه کې خپلې ستونزې حل کړي.

په تېره غبرګولي میاشت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان وکړ، چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره یې تقویتي نوملیکنه پیل کړې ده. کمیسیون وویل، دا لړۍ د هغو کسانو لپاره ده، چې نوی یې د اتلس کلنۍ عمر پوره کړی، په نوملیکنه کې یې ستونزې وې یا یې غوښتي چې د خپلې رایې اچونې مرکز بدل کړي. دغه بهیر په ۳۳ ولایتونو کې پیل شو، خو په غزني ولایت کې بیا عمومي نوملیکنه پیل شوې ده، چې یوه اونۍ نور به هم دوام کوي. په پاتې ۳۳ ولایتونو کې بیا د تقویتي نوملیکنې موده ورمه ورځ پای ته رسېدلې ده.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنو پر تقویتي نوملیکنه ۲۳ میلیونه ډالره لګولي دي.

بل پلو د ټولنیزو رسنیو کاروونکي او د ټاکنیزو ټیمونو غړي بیا وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دې مهمې پروسې په اړه اړین عامه پوهاوی او معلومات خلکو ته نه دي ورکړي. د ټولنیزو رسنیو کاروونکی او د سیاسي چارو شنونکی ثواب الدین مخکښ وایي، د ټاکنو لپاره تقویتي نوملیکنه دومره اغېزمنه نه ده. د نوموړي په خبره، د ټاکنو کمېسیون په دې اړه خلکو ته عامه پوهاوی نه دی ورکړی او د نوملیکنې وخت هم کم و. نوموړی وایي: ((د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د نوملیکنې تقویتي پروسه هومره محسوسه نه ده، ډېر خلک ان نه پوهېږي چې څه شوي دي، څه وخت پیل شوي او څه وخت پای ته رسېدلي دي)).

تر دې وړاندې د حکومت اجرایه رییس هم پر دغه بهیر نیوکه کړې وه. هغه ویلي وو چې خلک د ټاکنو پلویان دي، باید وخت ورکړل شوی وی او په سمه توګه د نوملیکنې تقویتي پروسه مدیریت شوې وای. اجرایه رییس بیا په راتلونکو ټاکنو کې د شفافیت په اړه هم په ځلونو اندېښنه څرګنده کړې ده.

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا دغه پروسه له لاس ته راوړنو ډکه بولي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون یو ویاند ذبیح الله سادات له مسیر ورځپاڼې سره په خبرو کې وویل، چې د نوملیکنې د تقویتي پروسې په اړه یې ډېر مخکې تبلیغات پیل کړي وو او په وینا یې دغه پروسه بریالۍ تېره شوې ده. د هغه په خبره، ۴۵۸ مرکزونه د تقویتي نوملیکنې لپاره مشخص شوي وو، چې له دې ډلې ۴۲۸ یې فعال وو. سادات وایي چې له غزني پرته په ۳۳ ولایتونو کې شاوخوا (۳۱۸۲۴۲) کسانو نوملیکنه کړې ده. د سادات په خبره، تر دریو زره ډېرو کسانو خپله نوملیکنه کې اصلاحات راوستي. همدا راز څه کم ۱۷ زرو کسانو بیا د خپلې رایې اچونې مرکز تغیر کړی دی.

ذبیح الله سادات د هغو څرګندونو په اړه چې ګواکې کمېسیون عامه پوهاوی نه دی ورکړی وایي، د ټاکنو کمېسیون مهالوېش ته ژمن دی، خو په مهالوېش کې د عامه پوهاوي لپاره تر ټاکل شوې مودې دوه ورځې وړاندې دوی عامه پوهاوی او اعلانات پیل کړي وو. د سادات په خبره، تر ۹۰۰ پورې د عامه پوهاوي لپاره ګومارل شوو مبلیغینو هم په دې پروسه کې برخه اخیستې ده.

خو له دې ټولو سره سره د راتلونکو ټاکنو په اړه نه یوازې نوماندان او عام خلک؛ بلکې څارونکي بنسټونه هم اندېښنې لري. پر ټاکنو ځینو څارونکو بنسټونو تېره ورځ هم رسنیو ته ویلي وو، چې د ټاکنیزو کمېسیونونو په چارو کې مداخله کېږي او دا هر څه به د راتلونکو ټاکنو شفافیت ته زیان ورسوي.

# اردوغان: له روسیې د «اېس ۴۰۰» دفاعي سیستم په پېرلو کې شاتګ نه دی شوی



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، له روسیې د «اېس ۴۰۰» دفاعي سیستم د پېرلو معامله عملي کېدو ته نږدې ده او په دې کې هېڅ په شا تګ نه دی شوی.

نوموړي ورمه ورځ په دې تړاو د جاپان په اوساکا ښار کې د نړۍ د شلو سترو اقتصادي هېوادونو د سرمشریزې په څنګ کې له خپل روسي سیال ولسمشر ولادیمیر پوتین سره هم خبرې کړې دي. هغه ویلي، اوسمهال د انقرې او مسکو ترمنځ د شوې معاملې د عملي کېدو وخت را رسېدلی دی. اردوغان زیاته کړې: «زموږ ترمنځ همکاري ادامه لري، په تېره بیا د «اېس ۴۰۰» سیستم د تحویلۍ په برخه کې، چې په دوشنبې ښار کې مو هم خبرې پرې وکړې. د موافقې له مخې اوس د لارې نقشه تعقیبوو. دا زموږ لپاره یو لومړیتوب دی چې باید تر سره شي چې په هغه کې په ګډه د توغندیو تولید او د ټکنالوژۍ انتقال هم شامل دي».

خو واشنګټن د انقرې او مسکو ترمنځ له دغې معاملې سره کلک مخالفت څرګند کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې اردوغان له پوتین سره تر کتنې وروسته، د امریکا د متحده ایالتونو له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره د شنبې په ورځ د جاپان په اوساکا ښار کې وکتل.

ټرمپ په دغه کتنه کې چې ۳۵ دقیقې یې دوام وکړ، اردوغان ته ویلي چې له روسیې د «اېس ۴۰۰» دفاعي سیستم ونه پېرې. ټرمپ ویلي چې دا ښه نه، بلکې یوه پېچلې مسئله ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ترینګلې کولی شي.

متحده ایالتونو دغه راز له ترکیې غوښتي چې د «اېس ۴۰۰» سیستم پر ځای دې له امریکا د پاتریویت توغندیو سیستم وپېري.

واشنګټن دغه راز خبرداری ورکړی چې که ترکیه دغه معامله د جولای تر ۳۱مې لغوه نه کړي، انقره به د «اېف ۳۵» ډوله نویو جنګي جېټ الوتکو له اخیستو بې برخې شي او پر دغه هېواد به بندیزونه ولګوي.

په یاده لیدنه کې اردوغان ټرمپ ته ویلي چې ستراتېژیک مشارکت یې په ډېرو مواردو کې همکارۍ ته اړتیا لري، خو د دواړو مشرانو د خبرو په تړاو ډېر جزیات نه دي ورکړل شوي.

د اردوغان دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې تر دې مخکې د ترکیې «سي.اېن.اېن» ټلویزیون د اردوغان له قوله خبر ورکړی و، چې له روسیې، ترکیې ته د هوایي مدافعې «اېس ۴۰۰» سیستم د لېږد چارې به د جولای میاشتې په لومړۍ نیمایي کې پیل شي.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنگه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




هر ځای کې د خپلو مشرانو په مخ کې کشران وستايئ. هغوی به درنه مننه وکړي او درناوی به درته ولري. په دې مه وېرېږئ چې دا کار به گني ستاسې ارزښت ختم کړي. اپوته کوم خلک چې تواضع کوي او لوی شخصیت لري، پر ځان یې باور تر هغو متزلزلو خلکو زیات وي چې په زور خپلو برياوو ته د نورو پام را اړوي.

په هر فرصت کې تر خپل لاس لاندې خلک وهڅوئ او ويې ستايئ. همکاری یې وستايئ. کوم کارونه چې له خپل مسئولیته ورهاخوا کوي د هغوی مننه ترې وکړئ. ځکه هڅونه هغه یوازینی انگېزه ده چې موږ یې پرته له لگښته نورو ته ورکولای شو. زیاتره وخت داسې هم شوي چې یوه واړه نوماند، بل لوی او مشهور نوماند له میدانه ویستی دی. انسان نه پوهېږي چې د ده تر لاس لاندې خلک به یې د ده پلوي او ملاتړ کله جبران کړي. نو د خلکو درناوی یاد ساتئ.

له خلکو سره سم چلند وکړئ، انسان اوسئ.

د رهبرۍ درېیم اصل: پر خپل بري فکر وکړئ، پر بري باور ولرئ او بری وغواړئ.

نورو خلکو ته یوه له ستاینې او هڅونې ډکه جمله دا ده: (د هغه کس نوم داسې واخلئ چې بری ورسره ذهن ته راشي. فلانی ډېر د کار سړی دی.)

بری د هغو رسي چې باور پرې لري او هڅې ورته کوي. حقیقي رهبران لږ دي. داسې خلک ډېر دي چې وايي: چارې سمې رواني دي، ولې رواني چارې خرابې کړو، اپوته داسې خلک بیا لږ دي چې په هر وخت کې د چارو ښه کولو او سمولو هڅې کوي.

د رهبرۍ د نخبه گانو له ډلې سره یو ځای شئ او بری وغواړئ.

دلته دوه کاره وړاندیز شوي، پر دې تاسې پرمختگ خوښوونکی نظر پیدا کولای شئ.

۱. هر کار چې کوئ، ودې او پرمختگ ته پکې گورئ.
۲. هر کار کې پر لوړ معیار فکر کوئ.

څو کاله مخکې راته د شرکت رئیس وویل چې په یوه مهمه پرېکړه کې ورسره مرسته وکړم. دې اجرائیوي مدیر په یوازې سر دا شرکت رامنځته کړی او خپله پکې د خرڅلاو د برخې مسئول و. اوس یې اووه پلورونکي گومارولي وو او نیت یې کړی و چې ته یوه ته ترفیع ورکړي او خپل ځای ته یې راولي. بلاخره یې درې داسې کسان ټاکلي وو چې د تجربې او مسلک له مخې تقریباً په یوه حالت کې وو.

زما ماموریت دا و چې له دې هر یوه سره په شرکت کې یوه ورځ تېره کړم او بیا د شرکت خاوند ته خپل نظر ووایم چې کوم یو پکې تکړه دی. هغوی ته ویل شوي وو چې یو مشاور به ورسره گوري او د بازارموندنې د چارو په اړه به ورسره غږېږي. خو د ځینو دلایلو له امله مو ورته د دې کتنې اصلي دلیل نه و ویلی. دوو تنو تقریباً ورته غبرگون وښود. دواړه راسره ناراحته وو، لکه زه چې د دوی د حالت بدلولو لپاره راغلی یم. دوی د شته حالت ملاتړ کاوه او ټول شوي کارونه یې تاییدول. ما ترې د بازار د هدف، د خادماتو د تادیې بڼې او هغو شیانو په اړه پوښتنې وکړې چې د دوی خرڅلاو لوړوي، خو ټول ځواب یې همدا و چې: (هر څه سم روان دي.) په ځینو خاصو مواردو کې یې دا وویل چې دا اوسنی حالت ولې نه بدلېږي او باید بدل نه شي. عموماً دواړو غوښتل چې حالات په هماغه ډول پاتې شي. یوه به زه خپل موټر کې تر خپل هوټله رسولم، هلته به یې چې څنگه ښکته کړم، راته ویل به یې: (زه نه پوهېږم چې ته یې ولې را لېږلی یې، خو زما له خوا رئیس ته ووایئ چې هر څه سم روان دي، بیا یې مه بدلوئ.)

درېیم کس بیا له دوی سره توپیر درلود. ده له شرکت سره ډېره مینه لرله او د شرکت په پرمختگ یې ویاړ کاوه، خو لا هم راضي نه و او د ډېر پرمختگ غوښتنه یې کوله. دې سړي به ماته ټوله ورځ د بازارموندنې د موضوعاتو په اړه نوې طرحې راکولې او موخه یې ځان او شرکت ته ډېرې پیسې ترلاسه کول وو. له ډېر وخته یې پر یوې تبلیغاتي طرحې فکر کاوه، هغه یې راسره شریکه کړه. مخه ښه مې چې ورسره کوله، نو وروستی خبره یې راته دا وکړه:

(خوښ یم چې داسې یو فرصت په لاس راغی او یوه کس سره پر خپلو نظریاتو وغږېدم. زموږ کار ښه روان دی، خو زه باوري یم چې تر دې لا ښه کېدای شي.)

دا زما نه، بلکې د درېیم کس سپارښتنه وه. دا نظر د شرکت خاوند هم درلود. پر پراختیا، گټورتیا، نویو محصولاتو، نویو فعالیتونو او نویو ادارو باور؛ سوکالي ډېره کړې ده.

پر بري باور ولرئ او هڅه وکړئ چې د رهبرۍ (مشرۍ) مقام ته ورسېږئ.

ماشومتوب کې مې د دوو روزونکو جلا ذهنیتونه ولیدل او له دې امله مې د شاگردانو په فعالیت او اجراأتو کې توپیر هم احساس کړ.

ماشومتوب کې د کلي ښوونځي ته تلم. دا ښوونځی تر اتم ټولگي و. په یوه ټولگي کې څلوېښت شاگردان وو او یوه ښوونکي به درس ورکاوه. نویو ښوونکو به تل شاگردانو کې شور و شوق پیدا کاوه. دوی به د اومیانو او اتمیانو په مشرۍ دې تمه په تمه وو، چې څنگه به پرې ملنډې وهي.

**دوام لري...**

# تاجکستان

حشمت الله نوري

تاجکستان په منځنی آسیا کې د افغانستان شمال ته د شمالي عرض البلدونو د ۳۶ او ۴۱ او د ختیځ طول البلدونو د ٦٨ او ۷۳ درجو په منځ کې موقعیت لري، چې ټول پراخوالی یې ۵۵۲۵۱ میل مربع ته رسېږي.

تاجکستان ختیځ ته د چین له ولسي جمهوریت، لوېدیځ ته له ازبکستان، شمال ته له قرغزستان او جنوب ته له افغانستان سره گډه پوله لري.

تاجکستان غرنی هېواد د دی، چې ۹۴ سلنه خاوره یې غرونو نیولې او نیمايي خاوره یې د سمندر له سطحې څخه ۳۰۰۰ متره لوړه ده. دغه هېواد په اصل کې د تیان شان او پامیر د غرونو د لړیو په منځ کې پروت دی. تیان شان د چین خوا ته او پامیر د افغانستان شمال ختیځ لورته پراته غرونه دي، چې د دنیا بام هم بلل کیږي.

د دغه هېواد پلازمېنه د دوشنبې ښار دی او ټولټال څه باندې نهه میلیونه نفوس لري چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۵۲ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد ۳۵ سلنه وگړي په ښارونو او ٦۵ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

تاجکستان د اداري وېش له پلوه پر دوو ولایتونو وېشل شوی دی. پاندزه، لینن آباد، اشکاشم، خوروگ مرغاب، اسفره، نوآباد او کولاب یې مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد نوی اساسي قانون د ۱۹۹۴ ز کال د نومبر په شپږمه نافذ شوی دی. له دغه قانون څخه مخکې تاجکستان یو ولسواک جمهوري او گڼ گوندیز هېواد و او اقتصاد یې د بازار د اقتصاد پر اصولو ولاړ دی.

د ۲۰۰۳ ز کال د جون په ۲۲مه یوې ټولپوښتنې په دغه قانون کې لږ تعدیلات راوستل، د دغو تعدیلاتو له مخې یو کس دوه ځلې ولسمشر کېدلی شي. د دغه هېواد اوسنی مشر امام علي رحمن نوف دی. په تاجکستان کې ولسمشر د خلکو په خوښه د اوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. لومړی وزیر د ولسمشر او د وزیرانو کابینه د ولسمشر په وړاندیز د تاجکستان د عالي شورا له خوا ټاکل کیږي.

د دغه هېواد د استازو د جرگې مشر د استازو په پټه رایه ټاکل کیږي، د بدخشان ولایت یو استازی د دغه جرگې مرستیال وي.

د تاجکستان قضایه قوه خپلواکه ده، ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگان دی، د دغه هېواد د اساسي قانون د تفسیر او تعبیر لپاره د اساسي قانون محکمه شته، له دې وروسته اقتصادي محکمه، د بدخشان د کورواکه ولایت محکمه، د دوشنبې محکمه او بیا سیمه ییزې محکمې راځي. د تاجکستان د سترې محکمې قاضیان د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي.

د تاجکستان د خلکو ولسواک گوند، د اسلام بیا جوړولو ملي گوند، تاجک کمونیست گوند او د هېوادپاله یووالي گوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

دغه هېواد د ۱۹۹۱ ز کال د سپټمبر په نهمه له شوروي اتحاد څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم په کې نمانځل کېږي.

تاجکستان د پخواني شوروي اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې یوازینی جمهوریت دی، چې د سړې سرکلنې عاید یې ټیټ دی. د دغه هېواد اووه سلنه خاوره د کرنې وړ ده، کرنه د تاجکستان د اقتصاد غټ سکټور دی او مالوچ یې خورا مهم کرنیز حاصل گڼل کېږي. د تاجکستان د سپینو زرو، سرو زرو او یورانیمو کمکي خو ډېر ارزښتناک کانونه لري. په دغه هېواد کې صنعت د المونیمو د تولید مانا لري. له دې وروسته د برېښنا تولید، د پنبې پروسس، کوچنۍ فابریکې او د خوراکي توکو تولید د یادولو وړ دي. په دغه هېواد کې څلورکلنې کورنۍ جگړې د تاجکستان اقتصاد ته ستر تاوان رسولی دی. د روسیې مرستې کمې او د مالونو د خرڅلاو مارکېټونه محدود شول. د کرنې او صنایعو په تولیداتو کې کموالی راغی او کمزورو اقتصادي بنسټونو ته زیان ورسېد، ځکه نو له جگړې وروسته د تاجکستان اقتصاد او ان دا چې د دغه هېواد ضروري اړتیاوې روسیې، ازبکستان او نړیوالو مرستندویو ټولنو ته ور پرغاړه شوې. که څه هم چې د ۱۹۹۷ ز کال په جون کې د متخاصمو ډلو تر منځ د سولې تړون لاسلیک شو او د تاجکستان اقتصادي خوځښت نوې سا واخیسته، بیا هم تاجکستان د خپلو مهاجرینو په بیا مېشتېدنه او په جگړه کې د ویجاړ شوي اقتصاد د بیا جوړونې په برخه کې ډېرې ستونزې درلودې. پر دې سربېره، سیاسي ناکراري او په دولتي چارو کې د پخوانیو کمونستانو پر له پسې لاسبري د ۱۹۹۹ ز کال د مې په ۱۸مه وویل چې د تاجکستان ۸۲ سلنه خلک په ناوړه خوراکي شرایطو یا له نړیوال نورم څخه په لاندې حد کې تېروي. په ۲۰۰۲ ز کال کې د روسیې او تاجکستان تر منځ داسې یو تړون لاسلیک شو، چې تاجکستان به د روسیې پورونه د یوه نوي او اسانه جدول له مخې بېرته ورکوي.

خو اوس اوس د تاجکستان برېښنا ډېره ده او لږ افغانستان ته هم ورکوي او د دې ترڅنگ یې صنعت او زراعت وده کړې او اقتصاد یې ښه لور ته روان دی. د تاجکستان دولت او خلک غواړي چې دا هېواد له نورو هېوادونو سره سیال کړي او له اقتصادي پلوه پر خپلو پښو ولاړ او عامه خدمتونه زیات او ښه کړي.

په کال کې د ۵۰۰۰۰ ټنه المونیمو، جستو او سرپو پروسس، کیمیاوي توکي، برقي الات، ترانسفرمرونه، سیمنټ او نور ساختماني توکي، برېښنا، ټوکران، کیمیاوي سره، نباتي غوړي او نور خوراکي توکي، د ماشینونو ځینې برخې، پرزې، یخچالونه، فریزر او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

نفتي توکي، یورانیم، سیماب، د ډېرو سکاره، المونیم، جست، سره زر، سپین زر، تور مرمر، اوسپنه، سرپ، مالگه او قیمتي کانې د دغه هېواد مهمې کاني زیرمې بلل کېږي.

د تاجکستان غټ تجارتي شریکان ناروې، ترکیه، ازبکستان، روسیه، چین، امریکا، اذربایجان او اوکراین دي. دغه هېواد ٦۰ هوایي ډگرونه لري چې ۲۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۹۲ او د انټرنټ کود یې بیا TJ دی، چې ټولټال یې ۸۰۰ زره کسان ورته لاسرسی لري.

د تاجکستان دولت څلور ملي ټلویزیونونه او یوه ملي او اووه سیمه ییزې راډیوگانې لري او تر څنگ یې ۱۵ خصوصي ټلویزیونه هم فعالیت کوي. د دې تر څنگ، په دغه هېواد کې ۷۵ ورځپاڼې او اونیزې شته چې دولتي دي او نورې په سیاسي ډلو او ټولنو پورې اړه لري.

دغه هېواد د آسیا او نړۍ له ښوزلو هېوادونو څخه دی، که څه هم چې اوس یې اقتصاد ښه لور ته روان دی او لویې لویې پروژې تر لاس لاندې لري، چې دا به د تاجکستان په اقتصاد او د خلکو پر ژوند باندې مثبت اغېز وکړي.

د تاجکستان له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي. زده کړه په دغه هېواد کې له ۷-۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.

د مورخینو په عقیده، تاجکانو له ترکانو مخکې په منځنۍ آسیا کې یو لوی تمدن جوړ کړی و، له هغه وروسته د تاجکانو تاریخ د منځنۍ آسیا له نورو خلکو لکه ترکمنانو، قره قلپاکانو، قرغزانو او په تېره بیا له ازبکانو سره گډېږي. په شپږمه پېړۍ کې د تاجکانو سیمه د هخامنشیانو د امپراطورۍ یوه برخه بلل کېده. په څلورمه پېړۍ کې مقدوني سکندر دغه سیمه ونیوه. دوې پېړۍ وروسته په باختر کې د تخارستان دولت جوړ شو چې وروسته یې د سغدیانا او د منځنۍ آسیا د نورو واکمنیو په گډون، لویه امپراطوري جوړه کړه. دغې امپراطورۍ دوې پېړۍ پر ټوله منځنۍ آسیا حکومت وکړ، په هغه وخت کې منځنۍ آسیا د ختیځ چین او هند او لوېدیځ روم تر منځ لویه تجارتي لار وه. مسلمانو اعرابو دغه سیمه د اوومې پېړۍ په نیمايي کلونو کې ونیوه او د اسلام دین یې هلته ورساوه. د نهمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې د منځنۍ آسیا په پراخه سیمه کې د سامانیانو فیوډالي دولت جوړ شو، چې د خپلې واکمنۍ په اوج کې یې له بغداد او د فارس له خلیجه نیولې، د هند تر پولو پورې سلطنت کاوه. دا دولت د کورنیو خانانو د سختو جگړو او د سیمه ییزو کوچیانو د پرله پسې یرغلونو له امله کمزوری شوی و، چې د لسمې پېړۍ په پای کې ونړېد.

د ۱۹مې پېړۍ په دویمه نیمايي کې چې د روسیې سترواکې مخ په جنوب د افغانستان خوا ته پرمختگ کاوه، د اوسني تاجکستان شمالي سیمې او د تاجکانو غټ مرکزونه لکه اوراتپه او خجند د روسانو د ترکستان په نایب‌الحکومه پورې وتړل شول. په همدې وخت کې د بخارا امارت د خپلې سیمې په پراختیا لاس پورې کړ او د اوسني تاجکستان په ختیځ او جنوب کې یې د دروز او قره تکین سیمې ونیولې. په دې توگه د ۱۹ مې پېړۍ له پای ته رسیدو مخکې د تاجکستان شمالي برخې د روسیې او ډېرې جنوبي برخې د بخارا د امیر تر واکمنۍ لاندې راغلې. په ۱۹۱۷ ز کال کې د پامیر سیمه د روسیې سپینو پوځونو ونیوه، خو د شورویانو سره پوځ تر ۱۹۲۰ ز کال پورې په دغه سیمه کې ټول مقاومتونه وځپل. په ۱۹۲۵ ز کال کې د روسیې پامیر سیمه د گورنو بدخشان یا غرني بدخشان په نامه د یوه کورواکه ولایت په توگه په تاجکستان او تاجکستان د یوه کورواکه جمهوریت په توگه د ازبکستان د جمهوریت په تشکیل کې دا سیمې شاملې وې او په ۱۹۲۹ ز کال کې د خجند ټوله حوزه په تاجکستان پورې وتړل شوه او د ځینو سیمو په بېلولو د تاجکستان شوروي سوسیالیستي جمهوریت اعلان شو.

د افغانستان او تاجکستان خلک ډېرې پخوانۍ اړیکې لري. د افغانستان او تاجکستان خلک اوږد گډ تاریخ لري، دواړه ولسونه مسلمانان دي او د دواړو هېوادونو ځینې خلک په یوه ژبه، خو دوو بېلو گړدودونو خبرې کوي.

په شلمه پېړۍ کې د افغانستان او تاجکستان سیاسي اړیکې د مسکو له لارې ټینگې وې، ځکه چې تاجکستان د شوروي اتحاد یو جمهوریت و، خو د شوروي اتحاد له ړنگېدو وروسته سمدلاسه د دواړو هېوادونو تر منځ د سفیرانو په سویه اړیکې ټینگې شوې. په کابل کې د تاجکستان سفارت د ۲۰۰۲ ز کال د ډسمبر په ۲۲مه پرانیستل شو. په داسې حال کې چې په تاجکستان کې د افغانستان لومړی سفارت د ۱۹۹۲ ز کال د جولای په ۱۳مه پرانیستل شوی و او د دواړو هېوادونو د هوساینې او پرمختگ لپاره ډېر تړونونه هم لاسلیک شوي وو.

د کابل او دوشنبې ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۳۰ دقیقې او همدا راز د هوا له لارې واټن بیا ٦۳۳ کیلومتره مربع دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۷۵ |
| € | ۹۱,۵۰ |
| Rp. | ۵۰۸ |
| ₹ | ۱۱۶۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۱,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# عمل او پر ځان باور مو بریا ته رسوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ډېری کسان له دې ستونزې سره مخ دي چې پر ځان باور نه لري. دوی په دې عقیده دي چې بریا ته نه شي رسېدای او ناکامېږي. دوی که په یوه اوږده تونل کې را ګیر وي او د تونل په سر کې یوه وړه روښنایي ویني، د دې پر ځای چې ځان ته ډاډ ورکړي چې ګواکې ابادۍ ته ورسېدل، له ځان سره وایي، دا اورګاډی دی، تېرېږي. دوی په هر کار او هر ځای کې یوه ستونزه ویني او داسې ډېر لږ پېښېږي، چې ستونزې دې یو څوک ناکام کړي. د ناکامۍ اصلي لامل یې په پر ځان بې باوري ده .

**۱- ډېری کسان څوک نه لري چې باور پرې وکړي**

په نننۍ نړۍ کې ډېری انسانان د یوازېتوب احساس کوي. هغه ټولنیز احساس چې یو وخت ډېر عام و او پوره ګټه مو ترې اخیسته، نن سبا نشته او که وي هم کم رنګه شوی دی. ډېری کسان هغه کورنۍ ملاتړ چې دېرش، څلوېښت کاله د مخه یې درلود اوس یې نه لري او ترې بې برخې شوي دي. ۹۰ سلنه هغه کسان چې نن په زندانونو کې دي، هغوی ته یې پلرونو په ماشومتوب کې ویلي، چې یوه ورځ به تاسو زندان ته ځئ. په داسې حال کې چې مور او پلار باید خپلو اولادونو ته پر ځان باور کول ور زده کړي. ان ډېری کسان په داسې یوه حالت کې ژوند کوي، شپې او ورځې تېروي، چې ډېر نږدې کسان یې پرې باور نه لري. څوک نه لري چې ملاتړ یې وکړي او لمن یې ونیسي.

**۲- هغه کسان چې خلک پرې باور کوي پوهېږي!**

خلک په غریزي ډول پوهېږي، چې څه وخت خلک پرې باور کولی شي. پر خلکو باور کول کولی شي د هغوی ژوند ور بدل کړي. د جیم مېرمن نانسي وایي، کله چې پر یو چا باور وکړې، هغوی ناممکن کارونه ممکن کولی شي. ستونزې په ندرت سړی ناکاموي، خو پر ځان باور نه درلودل هرومرو د ناکامۍ لامل کېږي.

**۳- ډېری کسان د دې لپاره چې تاسو باور پرې لرئ، هر کار ته ملا تړي**

څومره مو چې پر خلکو د باور کچه لوړېږي، هومره ځان در خپلوي. که مو د کورنۍ غړی او یا نږدې دوست وي او پوه شي چې باور نه پرې لرئ، هغوی هم د ځان په اړه بې پروا کېږي، معمولي او یو ناقابل کس ترې جوړېږي. خو که باور پرې ولرئ او ویې هڅوئ، دوی هم هڅه کوي چې له ځانه هغه وړتیاوې ښکاره کړي، چې تاسو یې غواړئ. دا په اصل کې ستاسو دواړو د بریا لامل کېږي. جان سپالدینګ وایي: «هغه کسان چې زموږ پر وړتیاوو باور لري، زموږ په حق کې له تشویق او تحریک نه هم ډېر کار اخلي، هغوی زموږ لپاره داسې فضا برابروي، چې بریا په کې اسانه کېدای شي».

که مو تر اوسه پر چا باور نه کاوه، تګلاره مو بدله کړئ، پر خلکو باور وکړئ، ډېر ژر به د دواړو خواو ژوند بدل شي. د خلکو لپاره تر ټولو ښه ډالۍ پر هغوی باور کول دي. که یو چاته پیسې ورکړې، کېدای شي خلاصې شي. که سرچینې په واک کې ورکړې، معلومه نه ده چې سمه ګټه ترې واخلي او که نه. که مرسته ورسره وکړې، په لږ وخت کې پر خپلو پښو درېدای شي، خو که هغوی ته دا روښانه کړئ چې باور پرې لرئ، پر نفس یې اعتماد زیاتېږي او پر ځان متکي کېږي.

**باور لرل په عمل کې ثابت کړئ!**

پر نورو باور کول، له ځینو کلماتو او احساس پرته بل څه نه دي. موږ باید پر نورو باور کول په عمل کې ثابت کړو. لکه څه ډول چې د پوینت لوما د کالج د استاد تیلور پورکیسر ور پام شوی دی: «ایمان له هغه څه پورته دی، چې پوه شو دغه موضوع پر واقعیت برابره او سمه ده. ایمان مانا دا چې خبره تر دې کچې سمه ده چې کولی شو همدا اوس لاس په کار شو». که غواړئ له خلکو سره مرسته وکړئ او مثبت اغېز پرې وکړئ، له هغوی سره داسې چلند وکړئ چې پر نفس یې باور زیات شي. رالف والدو امرسون وایي: «پر نورو باور وکړئ، څو هغوی درته دروغ ونه وایي. له هغوی سره د یوه مهم او لوی سړي په څېر چلند وکړئ، څو ځان مهم او لوی سړی ښکاره کړي». پر خلکو باور وکړئ، څو په ټولنه کې نوي او تجربه لرونکي کسان وزیږېږي.

**پر نورو څه ډول باور وکړو؟**

زه او جان نېکمرغه یو؛ ځکه په یوه ښه او مثبت چاپېریال کې را لوی شوي یو. نو له همدې کبله په اسانۍ سره پر نورو باور کولی شو. خو ټول خلک بیا دومره نېکمرغه نه دي. ډېری کسان باید زده کړي، چې څه ډول پر نورو باور کولی شي. پر خلکو د باور کولو لپاره دغه ټکي په پام کې ونیسئ!

**پر هغوی مخکې له دې چې بریالي شي، باور وکړئ!**

ایا تر اوسه مو دې ته پام شوی، چې یوه ډله کسان د دوو ټیمونو تلې ته ګوري، چې پوه شي کوم ټیم ګټونکی دی، له هغه وروسته یې تشویقوي او چک چکې ورته وهي؟ دا هغه پېښه وه چې څو کاله وړاندې په سندیاګو کې پېښه شوه. کله چې د چارجرز د فوټبال ټیم په خپله ډله کې بریالی شو او له هغه وروسته چې نورو ټیمونو ته یې ماتې ورکړه، په ښار کې توپان جوړ شو. خلکو د ټیم د غړو عکسونه پر سړکونو، پنجرو، دېوالونو او خپلو موټرونو ځوړند کړل، ګټونکي د هر چا خوښېږي. پر هغه چا باور کول چې مخکې له مخکې یې خپله وړتیا ښودلې وي اسانه کار دی، خو پر داسې کسانو باور کول چې غواړي بریالي شي یو څه سخت کار دی، خو کېدای شي همدا ستاسو باور او هڅونه یې بریا ته ورسوي. فرانسوي لیکوال جوزف ژوبرت وایي: «انسان چې څو ایمان ونه لري، پر نورو ایمان نه شي راوړلی».

ځینې کسان په مایوسانه ډول غواړي پر ځان باور وکړي، خو هیله من نه وي. په داسې حال کې چې هېڅ ناهیلې کوونکې بریا نشته. یوازې نور خلک کولی شي په موږ کې مایوسي پیدا کړي. هر سړی په خپل وجود کې د عظمت زړې لري. خو که مو نور وهڅوي، باور در باندې وکړي او تشویق مو کړي، هغه ده چې دغه زړو ته به یې اوبه ورکړې وي، څو شنه شي او وده وکړي.

**د هغوی پر وړتیاوو د تایید ټاپې ولګوئ!**

مخکې مو هم په دې اړه خبرې کړې وې، چې ځینې کسان تېروتنه کوي او وایي، د دې لپاره چې د نورو خلکو پر ژوند مثبت اغېز پرې باسو، باید د یوه موقف خاوندان واوسو. په داسې حال کې مثبت اغېز کول کاملاً له یوې بلې کرښې تېرېږي.

له بریا مخکې پر نورو باور کول د دې لامل کېږي، څو خپلې بالقوه وړتیا ته ورسېږي. د خلکو له ښو کارونو ستاینه وکړئ. هم په ځانګړي ډول او هم د نورو په مخ کې. هغوی ته دا روښانه کړئ چې تر کومې کچې یې ښې کړنې تاییدوی. له یوه چا څخه چې د هغوی د کورنۍ د غړو په مخ کې ستاینه کوی، هغوی ته مثبته انرژي ورکوی او د بریا چانس یې زیاتېږي.

## ملګري ملتونه: افغانستان له ټاکنو وروسته د ناورین زغم نه لري

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو ویلي چې د دوی لپاره د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې او د سولې پروسه دواړه لومړیتوبونه دي.

نوموړي ویلي، د ټاکنو او سولې دوو اساسي موضوعاتو په تړاو د ملګرو ملتونو د رول او نظر په اړه د مختلفو رسنیو راپورونو او ګومانونو ته په کتو سره، غواړي ځینې ټکي روښانه کړي.

هغه زیاته کړې: «له دغو دواړو بهیرونو هېڅ یو یې باید د بل بهیر له خوا اغېزمن نه شي او یا یې ټکنی نه کړي، دواړه بهیرونه باید په پوره زور او د ټولو ښکېلو برخه والو له ژمنتیا سره سم پر مخ ولاړ شي».

د نوموړي په خبره، په داسې حال کې چې د دغو مهمو بهیرونو ترمنځ روښانه اړیکې موجودې دي او دواړه یې د افغانستان پر راتلونکې ډېر زیات اغېز لري، ملګري ملتونه به په دواړو ډګرونو کې خپلې بشپړې همکارۍ ته دوام ورکړي.

یاماموتو ویلي: «لکه څرنګه چې مې څه کم دوې اونۍ وړاندې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته وویل، د ولسمشرۍ ټاکنې چې د سپټمبر په اته ویشتمه پلان شوې، د افغانستان د ډیموکراټیک سیاسي جوړښت د مشروعیت بیا تر لاسه کولو لپاره یوه مهمه لحظه ده. د دغه مهم سیاسي بنسټ په اړه باید دا ډاډ رامنځته شي چې رایې باوري او را وتونکې پایلې یې منل کیږي».

د هغه په خبره، په دغو بهیرونو کې ټول ګډونوال نوماندان، د هغوی ملاتړي، حکومتي چارواکي، د مدني ټولنې سازمانونه، ملي امنیتي ځواکونه، سیاسي مشران، سیاسي ډلې، رسنۍ، د ټاکنو د مدیریت ادارې او رایې ورکوونکي یو مهم رول او ګډ مسوولیت لري، چې د دغه بهیر باور او روڼتیا ډاډمنه کړي.

د یوناما مشر زیاته کړې، افغانستان له ټاکنو وروسته د ناورین د دوام اوږدېدو زغم نه لري چې کېدای شي په پایله کې یې له کمزوري ډیموکراټیک او کورني مشروعیت څخه برخمن ولسمشر رامنځته شي، چې دغه کار به د افغانانو په یووالي او د یوه ارزښتناکه ټولشموله سولې په برخه کې د نوي ولسمشر وړتیاوې اغېزمنې کړي.

د ملګرو ملتونو د یوناما دفتر په خبرپاڼه کې راغلي، پردې سربېره، د سپټمبر په ۲۸مه د ولسمشریزو ټاکنو په برخه کې د ټاکنو له تنظیمونکو ادارو سره د تخنیکي لارښوونو له لارې د هر ډول هڅو بشپړ ملاتړ کوي.

د یادونې ده چې تېره اونۍ کابل ته د سفر پر مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم په ډاګه کړې وه، چې سوله او ټاکنې یې په لومړیتوبونو کې دي.

## بهرنیو چارو وزارت: ښایي تر دوو اونیو د جرمني په ضمانت د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې پیل شي

بهرنیو چارو وزارت ویلي، په نږدې څو ورځو کې به د جرمني په ضمانت د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي پرون په کابل کې خبریالانو ته ویلي، چې جرمني چارواکو د بهرنیو چارو له وزیر صلاح الدین رباني سره په کتنه کې هغه ته ډاډ ورکړی، چې د دوی په ضمانت به د طالبانو او افغان حکومت استازي مخامخ خبرو ته کېنوي.

هغه ویلي: «البته بین‌الافغاني خبرې شاید په یوه یا دوو اونیو کې پیل شي او جرمني د طالب او افغان دولت د استازو ترمنځ د مخامخ خبرو د تر سره کېدو ضمانت کړی دی».

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر تېره اونۍ د جرمني له چارواکو سره د سولې په مسئله د سلامشورو لپاره هغه هېواد ته سفر کړی و.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند ویلي، په افغانستان کې د سولې ټینګېدل نږدې شوي او د افغان حکومت تمه دا ده، چې ژر به د ښکېلو غاړو ترمنځ بین‌الافغاني خبرې پیل شي.

صبغت الله احمدي د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په مشرۍ، د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ په دوحه کې د اووم پړاو د پیل شوو خبرو په اړه ویلي، چې افغان حکومت د دغو خبرو له جریان څخه خبر دی.

هغه په دې برخه کې افغانستان ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د سفر یادونه هم کړې او ویلي یې دي چې خلیلزاد هم افغان حکومت ته د طالبانو له استازو سره د خپلو خبرو په اړه معلومات ورکوي.

احمدي ویلي، د سولې د خبرو په برخه کې به افغانان ژر ښه خبرونه واوري.

نوموړي زیاته کړې، د افغان حکومت او وسله والو طالبانو د استازو ترمنځ د سولې خبرو د کوربه‌توب لپاره تر اوسه دریو هېوادونو اندونیزیا، جرمني او ازبکستان خپل چمتووالی ښودلی دی.

نوموړي زیاته کړې: «موږ هیله لرو چې یو د دغو دریو هېوادونو څخه به د دې ناستې کوربه‌توب وکړي».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey



المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
المبارک
توریستي شرکت
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.


دوشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ لسمه | د ۲۰۱۹ د جولای لومړۍ | دربیم کال | ۳۹۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ۳۷ | ۳٤ | ٤٠ | ۳۹ | ۲۹ |
| ۲۱ | ۲٤ | ۱۷ | ۲۷ | ۲۸ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



# اردوغان: له روسیې د «اېس ۴۰۰» دفاعي سیستم په پېرلو کې شاتګ نه دی شوی


۳

## عبدالمهدي: نړیواله ټولنه دې له جګړې ځپلي عراق سره د بیارغونې په برخه کې مرستې وکړي



د عراق لومړي وزیر عادل عبدالمهدي ویلي، اوس هغه وخت را رسېدلی چې د داعش له ماتې وروسته نړیواله ټولنه د دغه جګړه ځپلي هېواد د بیارغونې په برخه کې خپل ملاتړ څرګند کړي.
نوموړي په بغداد کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له یوه استازي سره په کتنه کې دغه څرګندونې کړې دي.
د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یاد استازي دغه راز د عراق له ولسمشر برهم صالح سره هم کتلي او پر بېلابېلو مسایلو یې خبرې کړې دي.
ولسمشر صالح د امنیت شورا استازي ته ویلي، هېواد یې غواړي د ټولو اړخونو ترمنځ د مذاکراتو په هڅولو سره، د لویو نړیوالو مسئلو په هواري کې خپل ګټور رول ولوبوي.
دا په داسې حال کې ده چې بغداد تر اوسه څو ځلې هڅه کړې چې د تهران او واشنګټن ترمنځ د منځګړي رول ولوبوي.
د امنیت شورا له استازي سره په لیدنه کې د دغه هېواد لومړي وزیر ویلي، چې د داعش د وسله والې ډلې پر ضد جګړه کې باید د دوی د هېواد قربانۍ له پامه ونه غورځول شي او باید د عراق په بیارغونه کې مرسته وشي.
عراق داسې مهال له نړیوالې ټولنې د مرستې غوښتنه کوي، چې د داعش وسله والې ډلې پر ضد په جګړه کې په دغه هېواد کې ډېرې ویجاړۍ رامنځ ته شوې دي.
بلخوا نړیوالو تمویلوونکو تېر کال له عراق سره د دېرش میلیارده ډالرو مرستې ژمنه وکړه، خو څېړونکي او د دغه هېواد حکومتي چارواکي وایي چې د دغه هېواد د بیارغونې لپاره ۸۸ میلیارده ډالرو ته اړتیا ده.

## د امریکا او شمالي کوریا ولسمشرانو د دربیم ځل لپاره پر مهمو مسایلو خبرې کړې دي



د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د شمالي کوریا له مشر کېم جونګ اون سره په غیرنظامي ساحه کې چې دواړه کوریاګانې سره جلا کوي، په سمبولیک ډول روغبړ کړی دی.
دواړو مشرانو پرون پر دې غیرنظامي کرښه لاسونه سره ورکړل او وروسته ولسمشر ټرمپ د لنډې شېبې لپاره د شمالي کوریا قلمرو ته داخل شو.
ټرمپ د امریکا لومړی برحاله ولسمشر دی چې د شمالي کوریا خاورې ته ننوځي. د شمالي کوریا له خاورې وروسته د دواړو هېوادونو مشران چې د جنوبي کوریا ولسمشر هم ورسره و، د جنوبي کوریا خاورې ته ننوتي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوږدو ناخوالو د پای ته رسېدو هیله یې ښودلې ده.
د دواړو مشرانو د لیدنې پر مهال ټرمپ ویلي: «دا د نړۍ لپاره ستره ورځ او زما لپاره د ویاړ ځای دی چې دلته یم».
ټرمپ د شمالي کوریا له مشر کېم جونګ اون سره د تړلو دروازو تر شا تر ۵۰ دقیقو مهمو خبرو وروسته ویلي، دواړو لوریو داسې ډلې تشکیل کړې چې په څو اونیو کې به پر اټومي موضوع خبرې بېرته پیل کړي.
د یادونې ده چې د امریکا او شمالي کوریا مشرانو تر اوسه دوه ځلې په خپلو کې سره کتلي، خو له اټومي وسلو د شمالي کوریا د پاکولو لپاره یوې هوکړې ته ورسېږي او په بدل کې به یې پر دغه هېواد نړیوال لګېدلي بندیزونه لرې شي.


## بررسی تازه: ولسوالان ٦۴ ولسوالی کارهای‌شان را از بخش دیگر کشور به پیش می‌برند




یک بررسی تازۀ طلوع‌نیوز نشان می‌دهد که دفترهای ٦۴ ولسوالی در کشور، یا به بیرون از محدودۀ این ولسوالی‌ها انتقال یافته‌اند و یا هم به‌گونۀ کامل، کار نمی‌کنند.
این ولسوالی‌ها در نُزده ولایت استند و بیشتر شان گواه ناامنی‌ها بوده‌اند.
شماری از ولسوالان این ولسوالی‌ها تأیید می‌کنند که آنان بیشتر در مرکزهای ولایت‌ها دفتر دارند و کم‌تر به خود این ولسوالی‌ها می‌روند.
ولایت فاریاب با نُه ولسوالی از این دست، در صدر این ولایت‌ها جا دارد. در جایگاۀ دوم ولایت غزنی با هشت ولسوالی می‌آید و پس از این، ولایت‌های فراه و هلمند، هرکدام با هفت ولسوالی، به‌گونۀ مشترک، در ردۀ سوم استند.
ولسوالی‌های معروف، میانشین، نیش و غورک در ولایت کندهار؛ ولسوالی‌های گیان، نکه، گومل و چارباران در ولایت پکتیکا؛ ولسوالی‌های گُل تیپه، کلباد، آقتاش و دشت ارچی در ولایت کندز؛ ولسوالی‌های بُرکه، تاله و برفک با دهنه غوری در ولایت بغلان؛ و ولسوالی‌های نوبهار، ارغنداب و خاک افغان در ولایت زابل، از دیگر بخش‌های این‌چنینی استند. مبارز خادم، ولسوال شیرزاد ولایت ننگرهار می‌گوید که در این ولسوالی و حتا اطراف ساختمان‌های دولتی، هرچندی جنگ‌هایی در می‌گیرند؛ راه‌های زمینی این ولسوالی را طالبان و داعش بسته‌اند و خود وی، اگر میسر شود، با طیاره‌ها به این ولسوالی رفت و آمد می‌کند.
محمد حسن عثمان زی، ولسوال حصارک ننگرهار نیز می‌گوید که کارهایش را از دفتری‌که در شهر جلال‌آباد و در ساختمان ولایت ننگرهار دارد، به پیش می‌برد. به گفته وی: «بیشتر از ولسوالی حصارک، در این‌جا کارهای ما زیاد است. در این‌جا برای ما عریضه‌های زیادی می‌آید. ما در این‌جا در ولایت دفتر داریم و در این‌جا نشسته‌ایم و مشکلات مردم را حل می‌کنیم».
در همین حال، در هر یک از ولایت‌های ارزگان، هرات، ننگرهار، بدخشان و لوگر، دو ولسوالی گواه نبود دفترهای فعال ولسوالان استند.


## ژوند

## په چین کې د نړۍ تر ټولو لوی هوايي ډګر جوړ شو



د (دکسینګ) په نوم د نړۍ تر ټولو لوی هوايي ډګر د چین په پکن کې جوړ شوی دی، خو لا پرانیستل شوی نه دی. د (دکسینګ) هوايي ډګر د پروژې مدیر له دې وړاندې ویلي، چې دا نه یوازې یو هوايي ډګر دی، بلکې په چین کې به د حمل و نقل تر ټولو ستر مرکز هم وي، چې په جوړولو یې شاوخوا ٦۰ میلیارده ډالره لګښت راغلی دی. دغه هوايي ډګر یو ترمینال لري چې طلايي ققنوس ته (یو ډول مرغه دی) ورته دی. پرانیسته یې د راتلونکې سپټمبر میاشتې په دېرشمه نېټه کېږي؛ څکه دغه ورځ د چین د خلکو د جمهوریت له اویایمې کلیزې سره برابره ده . د پکن په پخواني هوايي ډګر کې ډېره ګڼه ګوڼه وي او د نړۍ تر ټولو له ګڼې ګوڼې ډک هوايي ډګر هم بلل کېږي. نو د دې لپاره چې دغه ګڼه ګوڼه یو څه کمه شي، د کسینګ هوايي ډګر د جوړېدو طرحه رامنځ ته شوه. دواړه هوايي ډګرونه اوس له یو بل څخه ٦٧ کیلومتر واټن لري. د دغه هوايي ډګر د بنسټ ډبره په ۲۰۱۴ ز کال کې کېښودل شوې ده، خو عملي کار یې د ۲۰۱۵ ز کال د مارچ میاشتې په ۱۵مه پیل شو. ویل کېږي چې له دغه هوايي ډګره به په کال کې ٦۲۰ زره پروازونه کېږي او په کلني ډول به ترې دوه میلیونه ټن بار صادر او وارد شي.

## د هګیو خوړل د سرطان خطر کموي



هګۍ د کولین نومي موادو غوره سرچینه ده چې د اعصابو د معلوماتو رسولو سیستم په پیاوړي کولو کې مهمه ونډه لري. عصبي حجرات فعال ساتي او له دې سره د اعصابو فعالیت چټکېږي.

**۱- هګۍ هډوکي پیاوړي کوي**

هګۍ د ویټامین ډي غوره سرچینه ده چې په بدن کې د کلسیم جذبولو لپاره ډېر اړین دي. پر دې سربېره، په هګیو کې شته کلسیم او فاسفورس د بدن اوستیوپروسیس له منځه وړي او د هډوکو د پیاوړتیا لامل ګرځي.

**۲- هګۍ د بدن وزن نورمال ساتي**

هګۍ په زیاته اندازه پروټین لري چې پر همدې اساس د هغو کسانو لپاره چې غواړي پیاوړې عضلې ولري، یو غوره انتخاب دی. د هګۍ استعمال له ډېر خوراک څخه مخنیوی کوي چې په دې ډول د اضافي وزن اخیستو په مخنیوي کې اغېزناکې تمامېږي.

**۳- هګۍ د سترګو لید زیاتوي**

په هګیو کې د لیوتین او زیاګزانتین په نومونو مواد شته چې د سترګو لید زیاتوي؛ پورتني مواد انسان د سترګې له ناروغیو لکه د سترګې له ګل (کترکټ)، د سترګو د عدسیې د له منځه تلو او ځینو نورو څخه ژغوري.

**۴- د هګیو خوړل د سرطان خطر کموي**

د مختلفو څېړنو پر بنسټ په اونۍ کې شپږ هګۍ خوړل په انسان کې ۴۴ سلنه د سینې د سرطان خطر کموي.